سرلوڅ مرادزی ۲۷ / ۰۴ / ۲۰۱۲

# پاکستان له ۲۰۱۴ کال مخکې د تجزيي خطر تهديدوي

پاکستان په ۱۹۴۷ کال د افغانستان او هندوستان څخه د بيلو شويو ځمکو او ولسونو پر سر، د انګريز په لاس په جوړه شوي چلوټه کي د يو مصنوعي هيواد پتوګه رامنځته شو. کله چي انګريزان په دې وپوهيدل د هندوستان په وچه نوره مستقيمه واکمني نه شي چلولای، په دې لټه کي شول چې د هند له وچي څخه د وتون په مهال خپل ځايناستی پريږدي او کومه تشيا چې د دوی له وتلو رامنځته کيږي بايد د دوی د يوه ګوډاګي په مټ ډکه شي. په دې موخه پاکستان راوزيږول شو چې د انګريز له وتلو روسته به سيمه کي د هغه هيواد د ستراتيژيکو موخو د پليتابه لپاره په ټينګه ولاړ وي او د هغه ځايناستی به وي.

د پاکستان د رامنځته کېدو لپاره کوم طبيعي او تاريخي لامل نه ليدل کېده، نو د اسلامي ايديا ترانه د انګريزي استخباراتو لخوا لومړی د څو انګريزي ګوډاکيانو په غوړونو او مغزونو کي کښينول شوه او روسته د درواغو او چلوټو په رنګينه ننداره کي د خدايداد پاکستان په نوم هيواد د اسلامي نظريی پر بنسټ راوپنځول شو.

پاکستان د خپل جوړښت له لومړی ورځي پر بريتونو ګوتي تاوي کړي او ځان يي په سيمه او نړی کي د اسلام ټينګه قلا ونومولو او د اسلام په نوم اړيکي، سوداګري او سياست يي خپله رسمي او عملي کړنلار وټاکله .

پښتنو د فخر افغان پاچاخان په مشری د خدايي خدمتګارو او نورو قومي او ولسي مشرانو په لارښوونه د اسلامي ايديا پر بنسټ د لوی هندوستان ويش نه مانه او دا شرط يي هم په ډاګه کړی و ، که چيری انګريزان او د هغوی ټالي ښټي خامخا لوی هندوستان، د پاکستان او هند په نوم په دوه هيوادونو ويشي نو په دې صورت کي دې پښتنو ته دا حق حاصل وي چي نه د پاکستان او نه د هندوستان سره په دولت کي ورګډ شی بلکي پښتانه دي خپلواک او ازاد وي چي د پښتونستان په نوم خپلواک هيواد غواړي او که بېرته خپلو ورو افغاني ورونو سره په افغانستان کي يوځای کيږي .

په هغه ټولپوښتنه ( ريفراندم ) کي چي د هندوستان او پاکستان په نوم د دوه هيوادونو د رامنځته کېدو لپاره وشوه ، خدايي خدمتګارو او د پښتنو اکثريت پکي برخه وانه خيسته او هغه يي بايکاټ کړل .

په دې توګه د کوزو پښتنو اکثريت د پاکستان په جوړيدو ووټ نه دی ورکړي .کوز پښتانه ځانته خپل هيواد لري او هغه افغانستان دی او کوزه پښتونخوا د داسي يو موټي او بشپړ افغانستان يوه نه بېلېدونکي برخه ده .

بلخوا کوزو او برو افغانانو هيڅکله هم د ډيورند تپلي او استعماري کرښه نه ده منلي او تر اباسين پورې سيمه د افغانستان خاوره ده چي افغانان يی د بيا لاسته راوړلو لپاره د فرصت په لټه کي دي .

**بېځايه نه ده چي خليل زاد د يوه افغان په توګه د ۲۰۰۴ کال د ډيسمبر په ۱۳ مه، د امريکا په هاپکنز پوهنتون کي ويلي وو: د افغانستان اوسني سرحدونه مصنوعي دي او د ځينو دولتونو د استعماري سياستونو په پايله کي کښل شوي دي.**

اوس هم د خپلواکی لپاره د پښتنو مبارزه لکه د ۱۹۴۷ کال مخکې او يا د پاکستان له جوړېدو راروسته په بېلا بېلو بنو ادامه لري.

د ۲۰۰۹ کال په جون کي د مولانا فضل الرحمان د جمعيت علماء اسلام د ډلي ايالتي مشر مولانا ګل نصيب په پېښور کي يوې غونډې ته په نيوکه کي ويلي وو « عوامي نېشنل ګوند په سيمه کي د لوی پښتونستان د جوړولو توطيه جوړه کړي ده او په دې توګه غواړي پاکستان او افغانستان مات کړي چي دا کار جمعيت علماء اسلام او نورو اسلامي ګوندونو ته د منلو وړنه دی. »


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

نوموړی مولانا لا دا هم ويلي وو« د باچا خان مرکز لخوا جوړو شويو ښوونځيو کې د "پاکستان شادباد" په ځای د ملي ترانې په توګه د غني خان "ای زما وطنه د لالونو خزانې زما" غږول کېږي »

د روان لمريز کال د سلواغي په ۲۰ مه د عوامي نشنل ګوند د مشرتابه غړي افراسياب خټک په پېښور کې د يوې خبرې غونډې په مهال ويلي وو « تراوسه يې ګوند د صبر او عدم تشدد تګلاره خپله کړي، خو که حکومت خپله پاليسي بدله نه کړه، نو دوی به دې ته اړ شي، چې د پښتنو له کولتور سره سم ميدان ته راووځي او د خپل قتل عام بدل واخلي.

خټک وايي : « پښتنو خپل دښمن او دسيسې يې پېژندلي او نور به دوی ځوک ونه شي تېرايستلای، که پښتنو ته د هغوی حقوق ورنکړای شي ، نو په زوره به يې ترلاسه کړي. »

همداراز د اپريل په ۲۴ مه ، د پښتونخوا ملي عوامي ګوند ( د محمود خان اڅکزي په مشرۍ ) په يوه غونډه کې چې کوټې ښار پاچاخان څلورلارې ته ځېرمه وشوه، وايي « کراچۍ کې د پښتنو د وژنې تر شا د پاکستان د مرکزي حکومت لاس دی. دا ګوند زياتوی پاکستان مرکزي حکومت د سخت دريځو او مذهبي تندلارو ملاتړ کوي. د غونډې يوه ويناوال، د پښتونخوا ملي عوامي ګوند ايالتي سرمنشي عبدالرحيم زيارتوال وويل، چې لاهم افغانستان کې د پاکستان لخوا لاسوهنه روانه ده. BBC»

بلخوا کومه چلوټه چې د وخت پاکستاني واکمنانو پښتنو سره د پاکستان د جوړيدو په مهال کړې وه ، ورته هغه يې د بلوچيستان په وړاندې هم کارولې وه.

په ۱۹۴۷ کال د اګست په ۱۶ مه، د پاکستان د رامنځته کېدو يوه ورځ روسته د بلوڅو مشر مير احمديارخان د خپلواک بلوچيستان د بنسټ ډېره کيښوده. علي جناح د پاکستان د هغه مهال واکمن غوښتل چې په نرمه سره مير احمديارخان راضي کړي چې پاکستان سره يوځای شي خو نوموړي دا غوښتنه ونه منله . کله چې جنرال سکندر ميرزا په ۱۹۴۸ کال د پاکستان واکمن شو، هغه د بلوڅو نوموړی مشر په پينډۍ کې بندي کړ او بلوچيستان يې د بلوڅانو د ارادې په خلاف له پاکستان سره په زور يوځای کړ.

« همدا لامل دی چې بلوڅان له همغې ورځې تر اوسه خپله خاوره د پاکستان يوه مستعمره ګڼي، او د خپل استقلال فکر ورسره دی. سنګت سنجرانی ، ټول افغان »

د بلوڅانو د خپلواکۍ مبارزه نن سبا په نړيواله کچه له غونډو او کنفرانسونو نيولې بيا په بلوچيستان او پنجاب کې د وسلوالو چريکي بريدونو او جګړو په بڼه هم ادامه لري.

**« د اپريل په ۲۵ مه ، د لاهور د اورګاډو په تمځای کې د خونړي بريد پړه (لشکر بلوچستان) ډلې منلې ده.** دا لومړی ځل دی چې دغه ډله د بريد پړه مني. دغې ډلې ويلي، چې دا بريد يې کراچۍ کې د بلوڅ ښځو د وژنې په غچ کې کړی دی. د لاهور د اورګاډي په تم ځای کې ددې چاودنې له امله دوه تنه وژل شوي او نژدې پنځه ويشت تنه نور ټپيان دي. « BBC

اوس د بلوچستان په ښوونځيو کې « د بلوچستان د ازادی ترانه ويل کيږي؛ د پاکستان د بيرغ پرځای د بلوچو دازادۍ بېرغ رپيږی؛ نن ورځ د بلوچو قوم، پاکستاني پوځيانو ته د اشغالګرپه سترګه ګوري.»

د اقوامو او قبايلو د چارو څانګپوه ( متخصص ) او د پاکستان له سياستونو سره روږدی کارپوه ډاکټر رشيد وزيری چې يو مهال افغانستان کې د اقوامو او قبايلو مرستيال وزير پاتې شوی د اپريل په ۲۵ مه، راډيو ازادي سره مرکه کې وويل


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ

« پاکستان په کور دننه د لویو ننګونو سره مخ دی او کیدای شي دا هیواد د ۲۰۱۴ کال له رارسیدو مخکي تجزیه شي . نوموړی زیاتوي دم ګړی پاکستان له اقتصادي ، سیاسي او قومي ستونزو سره لاس وګریوان دی »

که د پنجاب په کور دننه ستونزي، د خپلواک بلوچیستان غوښتنه ، د کوزو پښتنو د خپلواکی غورځنګ ، د سندیش خپلواکي ، د افغانستان لخوا د ډیورنډ د تپلي کرښي د ړنګولو هڅي او د هندوستان لخوا د کشمیر پر سر شخړه یو له بل سره همغاړي شي، پنجاب به په یوه وخت کي شپږو جبهو کي راښکېل شي چي اوس هم په همدي ګړنګ ورروان دی نو دا وړاندوینه به چي کیدای شي پاکستان ۲۰۱۴ کال ته ونه رسیږي، تحقق پیداکړی.

د همداسي ورځي په هیله !

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ